شرکت انکشاف ملی | د ملي پراختیا شرکت

NATIONAL DEVELOPMENT CORPORATION

تاسیس ۱۳۹۸ هـ.ش

# د ملي پراختیا شرکت



www.ndc.gov.af

## د ملي پراختيا شرکت

ملي پراختيا شرکت د يو لوی دولتي شرکت په توګه په ۱۳۹۸المريز کال د پراختيايي پروژو او برنامو د کارونو د لا ښې همغږۍ او تطبيق ترڅنګ د ظرفيت لوړونې او د هېواد د اقتصادي ودې لپاره تأسيس شو او ژمن دی، چې د خپل مسلکي ټيم او شته امکاناتو په درلودلو سره به وکولای شي لويې او سترې پروژې د ملي ګټو په پام کې نيولو سره، چې په تېرو کلونو کې د بېلا بېلو دلايلو له امله نه دي پلې شوي په لنډ وخت کې په ټيټ قيمت او ښه کيفيت سره تطبيق کړي.

## لرليد

له بې وزلۍ څخه پاک افغانستان، د پراختيايي پروژو ګړندي کول، له موجوده سرچينو څخه ګټه اخيستنه، د هېواد په اقتصادي وده کې برخه اخيستل، په ملي او سيمه ييزه کچه له خصوصي او دولتي سکتورونو سره د همکارۍ هڅونه او پياوړتيا د ملي پراختيا شرکت کاري لرليد دی.

## ماموريت

ملي پراختيا شرکت دولت او خلکو ته د ګټې رسونې او د ملي ګټو په پام کې نيولو سره د برنامو د سمون، تطبيق او د مدغم شويو تصديو د بيارغونې او فعالولو په موخه تأسيس شو، چې د اړوندو او ښکېلو اړخونو سره په همغږۍ د هېواد د پرمختيايي ودې لپاره له نويو او مډرنو وسايلو او ميتودونو څخه په ګټې اخيستنې؛ چارو ته سمون او چټکتيا ورکوي.

## اهداف

- د زېربنايي او اساسي پروژو د تطبيق لپاره د مديريتي، نظارتي او انتفاعي لارښودي چار چوکاټ جوړول.
- په ملي او نړيواله سطحه د تجربو د شريکولو او د پانګونې د شرايطو او ظرفيت د رامنځ ته کولو لپاره له اړوندو ارګانونو سره مشارکت او د اړيکو ټينګول.
- د ملي پراختيا شرکت اړوند د مدغم شويو څانګو پراختيا، معياري کول او د ټولو څانګو د تطبيقي ظرفيت لوړول.
- د ځان بسيايني لپاره په بېلا بېلو سکتورونو کې د کار د يوې قوي او مډرنې قوې رامنځ ته کول.
- د هېواد په سطحه د کار دوامداره زمينې برابرول او د فقر لمنځه وړل.
- د ملي پراختيا شرکت په لاس کې د شته منابعو څخه په اغېزمنه اقتصادي توګه ګټه اخيستل.

## د ملي پراختيا شرکت راتلونکي پلانونه

### د کانونو سکتور:

۱- د بلخاب ډبرو سکارو د کانونو استخراج د دوراني برنامې د چارو پيل کول.

### د توليد سکتور:

۱- د سمنټو د توليد ظرفيت لوړول:

الف: د غوري سمنټو فابريکو

ب: د جبل السراج د سمنټو فابريکه

### د کرنې سکتور:

۱- د ترقي بڼ پراخول

۲- د کرنيزو کمپلکسونو د چارو پيل کول:

- د شمال کرنيز- صنعتي کمپلکس
- د شمال صنعتي پارکونه
- د کمال خان کرنيز- صنعتي کمپلکس

### د انرژۍ سکتور:

۱- له ډبرو سکارو د برېښنا توليد

۲- له ګاز څخه د برېښنا توليد(شبرغان)

۳- له اوبو د برېښنا توليد:

الف: د مچلغو بند جوړول

ب: د توري بند جوړول



د قوش تېپې د ستر او ملي کانال له چارو څخه ليدنه

## ودانيز سکتور:

ملي پراختيا شرکت په ودانيزه برخه کې د هېواد په سطحه په سلګونو لويې او کوچنۍ پروژې تر لاس لاندې نيولي دي، چې له ډلې يې د هېواد په ګوټ ګوټ کې د ۴۲۳ جوماتونه، د روغتونو لپاره د ۱۰۲ انتظار خونې، د کرونا ناروغۍ روغتونونه، د دارالامان اداري کمپلکس، د صکوکو مطبعه، د کابل ښار د سطحي اوبو مديريت پروژه، د بګراميو ښارګوټی، سنايي غزنوي ښارګوټی، لاله ښارګوټی، افغان ملي ماڼۍ او په سلګونو نورې پروژې.



د صکوکو دولتي مطبعه

## د تاريخي آبداتو سکتور:

ملی پراختيا شرکت د هېواد د تاريخي آبداتو د بيارغونې لپاره ټينګ عزم او اراده لري، تر څو يې په خپله پخوانۍ بڼه ورغوي او په دې برخه کې يې د هېواد په سطحه بېلا بېلې پروژې تر لاس لاندې نيولي دي، چې ډېرى يې بشپړې شوې دي لکه، د دارالامان تاريخي ماڼۍ، هرات تاريخي ګودامونه، جبل السراج ماڼۍ، پغمان د بالا باغ تاريخي ماڼۍ، جلال آباد شاهي ماڼۍ او د پل خشتي جامع جومات بنسټيزه بيارغونه او جوړول.



د پغمان د بالا باغ تاريخي ماڼۍ



د قوش تېپې ستر او ملي کانال

## د بندونو او کانالونو سکتور:

ملي پراختيا شرکت د هېواد د اوبو مديريت له خپلو لومړيتوبونو څخه ګڼي او په دې برخه کې يې په لسګونو پروژې تر لاس لاندې نيولي دي، چې د هېواد په شمال کې د قوش تېپې ستر او ملي کانال، د نيمروز ولايت د کمال خان بند د ترکو او قلعه افضل کانالونه، د فراه ولايت کانال، په پکتيا ولايت کې د مچلغو بند، په زابل ولايت کې د تورې بند او په بېلا بېلو ولايتونو کې د ۴۲ بندونو طرح او ډيزاين يې د يادولو وړ دي.



د غوري سمنټو فابريکو اړوند د ترقي بڼ

## د کرنې سکتور:

ملي پراختيا شرکت د کرنې په برخه کې په بغلان ولايت کې د غوري سمنټو فابريکو اړوند په څلورسوه پنځوس جريبه ځمکه کې د څاڅکو په سيسټم د ترقۍ بڼ جوړ کړی او پلان لري، چې په نږدې راتلوونکي کې د هېواد په شمال کې د شمال کرنيز-صنعتي کمپلکس چارې پيل کړي، چې دا کمپلکس به د کرنې په برخه کې په ټولو نړيوالو معيارونو برابر وي.

# د تولیداتو سکتور:


ملي پراختیا شرکت د تولید په برخه کې د ډېرو هڅو له لارې مهمې لاسته راوړنې لري لکه، په یوه ورځ کې د غوري سمنټو فابریکو له ۴۰۰ څخه تر ۵۰۰ ټنو پورې د سمنټو تولید، په یوه ورځ کې د جبل السراج د سمنټو فابریکې له ۲۰ څخه تر ۸۰ ټنو پورې د سمنټو تولید، د مخکې جوړو ودانیزو توکو فابریکه، د آکسیجن د تولید او د مرمر ډبرو پروسس یې د یادولو وړ دي.




د سمنټو تولیدات

# کانونو سکتور:

ملي پراختیا شرکت د هېواد په ځان بسیاینې او د کانونو معیاري استخراج ته ژمن دی، نو ځکه د افغانستان اسلامي امارت کابینې د بلخاب د ډبرو سکارو کاني حوزه د ملي پراختیا شرکت ته ولېږدوله، ترڅو له ترلاسه کېدونکو عوایدو څخه یې د هېواد ستري او ملي پروژې پلې شي.



د بلخاب د ډبرو سکارو کان